مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۸۷** (از ۴ الی ۱۱ جدی ۱۳۹۵ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه........................................................................................ ۲

### د سیمې بدلېدونکی جیو-پولیتیک وضعیت او دوه نوي بلاکونه

د سیمې بدلېدونکي سېناریو........................................................................ ۴

په سیمه کې د دوو بلاکونو ترمنځ روانه نوې لوبه........................................................ ۵

د سیمې د دوو بلاکونو ارزونه...................................................................... ٦

د روسیې-چین-پاکستان ناسته او پر افغانستان یې اغېزې.................................................. ۷

### جمعیت اسلامی و تقسیم دوبارهٔ قدرت سیاسی در ارگ

پیشینهٔ جمعیت اسلامی........................................................................... ۱۰

توافقات اشرف غنی و جمعیت اسلامی................................................................ ۱۱

آیندهٔ جمعیت اسلامی............................................................................. ۱۲

نتیجه‌گیری....................................................................................... ۱۳

## مقدمه

تېره سه‌شنبه د ۲۰۱٦ کال د ډسمبر په ۲۷مه په مسکو کې د روسيې-چين-پاکستان درېاړخيزه غونډه وشوه، چې د بحث اجنډا يې د افغانستان قضيه وه. په داسې حال کې چې غونډه د افغانستان په تړاو جوړه شوې وه؛ خو افغان حکومت يې نه په جريان کې و او نه يې هم کوم استازی ورته دعوت شوی و او له همدې کبله يې د افغان حکومت توند غبرګون هم وپاراوه.

داسې ښکاري چې دغه هېوادونه په افغانستان کې د داعش ډلې د ظهور ګواښ اړ کړي، چې د سيمې په کچه لاس په کار شي؛ خو په وروستۍ غونډه کې پام‌وړ خبره دا وه، چې درې‌واړو هېوادونو د ملګرو ملتونو له تور لېست څخه د يو شمېر طالبانو د ايستلو پرېکړه وکړه. دا غونډه داسې مهال جوړه شوه، چې سيمه ورو ورو يو ځل بيا د سړې جګړې د دوران په څېر پر دوو بلاکونو وېشل کېږي. پوښتنه دا ده، چې په دوو بلاکونو د سيمې وېشل کېدل به د سيمې پر وضعيت څه اغېز وښندي او په ځانګړي ډول به د دغې غونډې اغېزې پر افغانستان څه وي؟ د تحليل په لومړۍ برخه کې پر همدې موضوع د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د اوونيز تحليل د ځانګې شننه لولئ.

د تحليل په دويمه برخه کې د جمعيت اسلامي ګوند د اجرائي رئيس او د بلخ سرپرست والي عطامحمد نور او ارګ ترمنځ د احتمالي معاملې په اړه لولئ. څو ورځې وړاندې داسې خبرونه خپاره شول، چې عطامحمد نور له ارګ سره په خبرو اترو کې د خپل ګوند يا هم خپل ځان لپاره د امتيازاتو په اړه خبرې اترې کړې او دواړه لوري يوې هوکړې ته هم نژدې شوي دي. دا خبرې اترې داسې مهال چې د جمعيت اسلامي ګوند غړی ډاکتر عبدالله د حکومت اجرائيه رئيس دی، د جمعيت ګوند د جګ‌پوړو غړو له‌خوا د اندېښنې وړ وبلل شوې او په دغه ګوند کې د داخلي اختلافاتو څرکونه وليدل شول. په دې برخه کې به د دغې قضيې پر بېلابېلو اړخونو او احتمالي پايلې شننه ولولئ.

# د سیمې بدلېدونکی جیو-پولیټیک وضعیت او دوه نوې بلاکونه



تېره اوونۍ په مسکو کې د افغانستان د وضعیت په تړاو د روسیې-چین-پاکستان درېاړخیزه ناسته وشوه. سره له دې چې دغه ناسته د افغانستان په تړاو وه؛ خو نه د افغان حکومت په مشوره جوړه شوې وه او نه هم ورته د افغان حکومت کوم پلاوی وربلل شوی و.

دغې درېاړخیزې ناستې په هېواد کې دننه تاوده غبرګونونه هم وپارول. د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت ویاند دغه ناسته د اندېښنې وړ او پوښتنه‌پاروونکې وبلله او ولسي جرګې بیا د افغانستان له ګډون پرته د دغه هېواد د سولې په نوم یا د هېواد پر وضعیت هر ډول غونډه د افغانستان په کورنیو چارو کې د لاسوهنې په معنا وبلله. په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو قوماندان جنرال نیکولسن هم د روسیې پر دغه چلند سخته نیوکه وکړه او له طالبانو سره د روسیې نږدېوالی یې مرستندوی ونه باله.

که څه هم روسیې-چین-پاکستان له دغې درېاړخیزې ناستې وروسته ویلي، چې دغې پروسې ته به نور هېوادونه، په تېره بیا ایران او افغانستان هم راوبولي؛ خو په ځانګړې ډول به د افغان ولسمشر لپاره هېښوونکې دا وي، چې دا درې واړه هېوادونه (روسیه، چین او پاکستان) په غونډه کې پر دې همغږي شوي، چې یو شمېر طالبان د ملګرو ملتونو له تور لېست څخه وباسي.

دا چې په سیمه کې وروستی جیو-پولیټیک وضعیت څرنګه دی؟ آیا سیمه بیا په دوو بلاکونو کې وېشل کېږي؟ او په ځانګړې ډول د روسیې-چین-پاکستان دا درېاړخیزه ناسته به پر هېواد څه اغېزې وکړي؟ هغه پوښتنې دي، چې دلته تحلیل شوې دي.

## د سیمې بدلېدونکې سېناریو

سوېلي اسیا، منځنی اسیا او منځنی ختیځ له ۲۰۱۱ کال راهیسې د ژورو بدلونونو په لور روانې سیمې دي او دا درېواړه سیمې بیا په مستقیم او یا غیرمستقیم ډول د افغانستان پر پېښو اغېزې ښندي.

په منځني ختیځ کې د عربو پسرلی په خزان بدل شو، په سوریه کې له پاڅونونو وروسته کورنۍ جګړه پیل شوه او اوس د نړۍ د پاملرنې تر ټولو مهمه سیمه ګرځېدلې. په مصر کې پر دېموکراتیک نظام کودتا وشوه، له عراقه د امریکایانو له وتلو وروسته اسلامي دولت ډله رامنځته شوه او ان افغانستان ته یې هم ریښې راوکړې. په ایران کې منځلاري روحاني ولسمشریزې ټاکنې وګټلې او په پای کې یې له امریکا سره د اتومي پروګرام پر سر تړون هم لاسلیک کړ، چې له کبله یې ایران له نړیوالو بندیزونو راووت.

په سوېلي اسیا کې هم وضعیت د افغانستان-هند-پاکستان ترمنځ پېچلی دی او په وروستیو دوو کلونو کې د دغه مثلث ترمنځ د اړیکو لوړې او ژورې ولیدل شوې. په هند کې د نارېندرا مودي له راتګ سره د هند بهرنۍ سیاست فعال شو او تګلاره یې تر ډېره د پاکستان منزوي کول او له امریکا سره نږدې کېدل وه. په بل اړخ کې د پاکستان پوځ د پاکستان ضد وسلهوالو پرضد د ضرب عضب عملیات پیل کړل او د پاکستان پوځ د تېر پر څېر تر ډېره د افغانستان او هند چارې په خپلو لاسونو کې واخیستې. د ملکي حکومت او پوځ ترمنځ هم اختلافات موجود وو.

له افغانستانه د امریکایانو د پوځیانو وتل پیل شول، چې اوسمهال یې شمېره تقریباً د رسمي ارقامو له مخې ۱۰ زرو ته راښکته شوې ده. د حامد کرزي-امریکا له اختلافاتو وروسته، نوي افغان حکومت له امریکا سره د نږدې اړیکو تکل وکړ او له سیمهییزو هېوادونو سره یې هم د اړیکو ښه کولو هڅه وکړه.

په چین کې د شي جین پینګ له راتګ سره بیجینګ د لوېدیځ په لور پاملرنه زیاته کړه او په همدې موخه یې د وربښمو نوې لارې، چې دوی یې د "یوه سړک او یوې کربښې" په نامه یادوي، د ایستلو هڅه وکړه. په پاکستان کې یې د "چین-پاکستان اقتصادي حوزې" تر نامه لاندې د ۴۶ ملیارده ډالرو پانګونې تکل هم وکړ؛ خو دغه مهال یې له امریکا سره اړیکې د چین د سوېلي سمندرګي په قضیه کې هم خرابې شوې.

## په سیمه کې د دوو بلاکونو ترمنځ روانه نوې لوبه

که چېرې د سیمې د وروستیو دوو کلونو جیوپولیټیکي وضعیت ته ځېر شو، نو څرګندېږي چې زموږ سیمه د سړې جګړې په څېر بیا په دوو بلاکونو کې وېشل کېږي؛ خو دا ځل یې توپیر دا دی، چې د دغو بلاکونو د جوړښت تر شا د ایډیالوژۍ پر ځای د سیمې روان حالات او بدلېدونکې ګټې دي.

### لومړی بلاک: هند-افغانستان-امریکا:

په لومړي بلاک کې هند، افغانستان او امریکا راځي. د ملي یووالي حکومت له راتګ سره د افغان حکومت او امریکا اړیکې د حامد کرزي د دویمې دورې په پرتله نږدې شوې. د امنیتي تړون له لاسلیک کولو سره په افغانستان کې د امریکا راتلونکی روښانه شو. افغان حکومت امریکایانو ته د شپنیو عملیاتو اجازه ورکړه او د امریکایي سرتېرو لخوا د ملکیانو پر وژنه یې هم چوپتیا غوره کړه. په بدل کې امریکا له افغان حکومت سره د بروکسل او وارسا کنفرانسونو کې د مرستو ژمنه وکړه. په بل اړخ کې د ملي یووالي حکومت د جوړېدو پر لومړي کال له هند سره اړیکې نږدې نه وې؛ خو کله چې کابل له اسلام‌آباد څخه ناهیلی شو، نو له ډهلي سره یې اړیکې نږدې کړې.

هند له افغانستان سره د جنګي چورلکو مرستې وکړې او دغه راز له افغانستان سره یې د یو ملیارد ډالرو نورو مرستو ژمنه هم وکړه. افغان حکومت هم له هند څخه د درنو وسلو د رانیولو پرېکړه وکړه، چې د هند لخوا هم ورته شین څراغ ورکړل شو.

په بل اړخ کې د نارېندرا مودي له واک ته رسېدو سره د هند او امریکا ترمنځ اړیکې د تېر په پرتله نږدې شوې. نارېندرا مودي تر اوسه څلور ځله امریکا ته سفر کړی، بارک اوباما هم په ۲۰۱٦ کال کې هند ته سفر وکړ او په ۲۰۱٦ کال کې د امریکا او د هند د دفاع وزیرانو ترمنځ شپږ کتنې وشوې، د دغو کتنو پرمهال د نظامي-لوجستیکي هوکړه‌لیک لاسلیک کول د یادونې وړ دي، چې له مخې به یې دواړه هېوادونه د یو بل له هوایي ډګرونو څخه د اړتیا په وخت کې ګټه واخلي.

### دویم بلاک: روسیه-چین-پاکستان:

په دویم بلاک کې روسیه، چین او پاکستان شامل دي. د پاکستان او چین اړیکې تل ښې وې؛ خو په ۲۰۱۵ کال کې پاکستان ته د چین د ولسمشر سفر او د چین-پاکستان اقتصادي حوزې (سیپېک) پرانیستنه هغه څه

شول، چې دواړه هېوادونه يې نور هم سره غوټه کړل. دغه راز په دې وروستيو کې د روسيې او پاکستان ترمنځ هم اړيکې مخ په پراخېدو دي. ښايي روسيه د پاکستان شمال-جنوب د غازو نلليکه کې تر ۲ مليارد ډالرو پورې پانګونه وکړي، سيپېک کې شامله شي او له پاکستان سره يې نظامي تمرينات هم پيل کړي. د دې ترڅنګ چين او روسيه د شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته ستراتيژيک ملګري دي او اوسمهال يې په نړۍ کې له يو بل سره ګټې د امريکا په پرتله همغږې دي. د بېلګې په ډول يادولی شو، چې سوريه او منځني ختيځ کې يې ګټې او په سيمه کې د امريکا د پوځي حضور پر وړاندې دريځ او داسې نور.

## د سيمې د دوو بلاکونو ارزونه

که چېرې د دغو دوو بلاکونو ارزونه وکړو، نو له چين او پاکستان سره د هند اړيکې کړکېچنې دي. مودي د سوېلي اسيا مشران ډهلي ته د خپلې لوړې مراسمو ته راوبلل، چې په دوی کې د پاکستان لومړی وزير نواز شريف او افغان ولسمشر حامد کرزی هم شامل وو؛ خو تر اوسه د مودي په دغه دوره کې د کشمير او تروريزم له کبله له پاکستان سره د هند اړيکې ډېرې خرابې پړې دي. د پټهانکوټ او اوړي له بريدونو وروسته هند د پاکستان د منزوي کولو تګلاره پرمخ کړه او ترڅنګ يې له چين سره هم اړيکې د اتوم تامينوونکو هېوادونو ډله کې د هند د غړيتوب پرخلاف د چين دريځ او د جيش محمد له مشر مسعود اظهر څخه د چين د دفاع له کبله خرابې شوې او بيا يې هند ته د تبت مذهبي مشران راوغوښتل، چې چين دغه کړنه بيا په سختو ټکو وغندله.

په بل اړخ کې له چين او روسيې سره د امريکا اړيکې هم د ترينګلتيا او کړکېچ په لوري روانې دي. د امريکا او چين ترمنځ د سوداګرۍ په برخه په تېره بيا د "ايوان" د ارزښت په تړاو اختلافات شته دي، امريکا د چين په سوېل سمندرګي کې د بيجينګ د دريځ مخالف نظر لري او په سيمه کې يې د چين له مخالفو سوېلي اسيا، جاپان، ويتنام، تايوان او نورو سره ژورې اړيکې دي. له روسيې سره د امريکا اړيکې هم د ۲۰۰۹-۲۰۰۱ کلونو په پرتله ډېرې خرابې دي. دواړه هېوادونه په سوريه، يوکراين او اوس په افغانستان کې د يو بل پرضد په يوه ناعلان شوې سړه جګړه کې ښکېل دي.

دا لومړی ځل دی، چې په افغانستان کې روسيه او ايران له هند لاره بېلوي. له دې وړاندې دغو درې واړو هېوادونو په افغانستان کې تقريباً ورته تګلاره درلودله؛ خو له طالبانو سره د روسيې او ايران نږدې اړيکو دې چلند ته د پای ټکی کېښود.

سیمه د همدغو دوو بلاکونو ترمنځ د وېشل کېدو په لور روانه ده؛ خو د (افغانستان-چین)، (روسيې-هند) او (امریکا-پاکستان) اړیکې هغه څه دي، چې شاید د دغو دوو بلاکونو په پرمختیا کې خنډ پېښ کړي او که چیرې د افغانستان-چین ښې اړیکې خرابې، د روسيې-هند نسبتاً سړې اړیکې د تربګنۍ خوا ته او د امریکا-پاکستان اړیکې نورې هم ترېینګلې شي، نو د دغو بلاکونو برخلیک به وټاکي.

## د روسيې-چین-پاکستان ناسته او پر افغانستان يې اغېزې

که څه هم د روسيې-چین-پاکستان درېاړخیزه ناسته نوې نه ده، بلکې دوی له دې وړاندې هم دوه ناستې کړې دي؛ خو دا ځل يې دېره پاملرنه د افغانستان وضعیت ته اړولې وه. په دغه ناسته کې درې واړو هېوادونو په افغانستان کې د داعش له نفوذ څخه اندېښنه څرګنده کړه او په دې هم همغږي شول، چې د طالبانو یو شمېر غړي د ملګرو ملتونو له تور لېست څخه وباسي، ترڅو دا د افغانستان د سولې په پروسه کې مرسته وکړي. خو د دغو دریو هېوادونو دا پریکړه د افغان ولسمشر له هغو څرګندونو سره په واضع ډول په ټکر کې دخ، چې دوه میاشتې وړاندې يې له ملګرو ملتونو غوښتي وو، څو د طالبانو مشر ملا هبة الله په تور لیست کې شامل کړي.

د افغانستان په تړاو دا ډول غونډې کول، چې د افغانستان په مشوره نه وي جوړې شوې او نه يې هم استازو ګډون پکې کړی وي، د افغانستان په داخلي چارو کې د لاسوهنې معنا ورکوي. دغه راز له تور لېست څخه د طالبانو د لرې کولو غوښتنه به افغان طالبان سیمهییزو هېوادونو ته نور هم نږدې کړي.

دا چې افغانستان ولې له یوه داسې وضعیت سره مخ شو، چې روسیه-چین-پاکستان د افغانستان د وضعیت په تړاو او بیا د چین او روسيې په څېر هېوادونه چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا کې د ویټو ځواک لري، له تور لېست څخه د طالبانو د ایستلو په اړه همغږي ښيي، لاندې عوامل لري:

- **د سیمې جیو-پولیټیک وضعیت**؛ د سیمې د روان جیو-پولیټیکي وضعیت، چې پورته ورته اشاره وشوه، دغه درې هېوادونه یوځای سره راټول کړل.
- **د افغان حکومت ناسمه تګلاره**؛ د دغه روان وضعیت تر شا یو لامل په خپله د افغان حکومت ناسمه تګلاره وه، چې له یوې خوا يې د سیمهییزو سیالو هېوادونو ترمنځ انډول ونه شو ساتلای او له بلې خوا يې له طالبانو سره د مخامخ خبرو په پیلولو کې هم کوم ابتکار په لاس کې وانه خیست.

- **د طالبانو فعاله ډیپلوماسي**؛ د طالبانو فعاله ډیپلوماسي، چې چین، روسیې او ایران په ځېر هېوادونو ته یې په دې قناعت ورکړ، چې د طالبانو نظریه یوازې د افغانستان تر پولو پورې منحصره ده. دغه راز د داعش پرضد دوی د افغان حکومت په پرتله غوره ایتلاف کېدلای شي.

خو افغان حکومت د ناپېیلتوب او له طالبانو سره د سولې د مخامخ خبرو اترو له لارې کولای شي، چې په افغانستان کې د دویم بلاک د ډېرې لاسوهنو مخه ونیسي، که نه، دا روان حالات به د افغانستان جګړه نوره هم پېچلې، اوږده او خونړۍ کړي.

# جمعیت اسلامی و تقسیم دوبارۀ قدرت سیاسی در ارگ



برخی اعضای ارشد جمعیت اسلامی افغانستان از توافقنامۀ ایجاد حکومت وحدت ملیراضی به نظر نمی‌رسند و در تلاش متوازن ساختن بیشتر تقسیم قدرت سیاسی اند. به تازه‌گی از گفتگوها میان ارگ ریاست جمهوری و عطامحمد نور رئیس اجرائی این حزب بر سر همین مسئله، پرده برداشته شده است.

در حالیکه بیشتر اعضای ارشد جمعیت اسلامی از داکتر عبدالله در انتخابات سال ۲۰۱۴ حمایت سرسختانه می‌کردند و حتی کسانی را که در کنار داکتر عبدالله ایستاده نشدند، به خیانت ملی متهم کردند، ولی تازه در برخی رسانه‌ها انعکاس یافته که عطامحمد نور یکی از حامیان سرسخت داکتر عبدالله و مخالف تیم انتخاباتی اشرف غنی در دوران کمپاین‌های انتخاباتی، دیگر اعتمادی بر رئیس اجرائی کشور ندارد و خود وارد چانه‌زنی‌ها بر سر قدرت سیاسی با ارگ شده است. عامل دیگر این گفتگوها اصرار اشرف غنی مبنی بر برکناری وی از مقام ولایت بلخ و عدم رغبت او مگر در مقابل امتیازهای بیشتر، پنداشته می‌شود.

جمعیت اسلامی افغانستان یکی از احزاب سیاسی مطرح در کشور است که علیه اتحاد قشون سرخ جماهیر شوروی جنگید و در دهه ۹۰ میلادی رهبری مجاهدین را نیز در دست داشت. بعدا با رژیم طالبان تا سقوط آنان به کمک امریکا، علیه آنان در جنگ بود. پیشینۀ جمعیت اسلامی، وضعیت این حزب پس از ترور استاد

ربانی، و گفتگوهای کنونی افراد این حزب با ارگ در تناظر اختلافات احتمالی درون‌حزبی جمعیت، موضوعاتی اند که در این تحلیل مورد بررسی قرار گرفته است.

## پیشینۀ جمعیت اسلامی

جمعیت اسلامی و حزب اسلامی، دو حزبی اند که خود را بنیان‌گذاران نهضت اسلامی افغانستان می‌دانند. اینکه واقعا کدام حزب بنیان‌گذار نهضت اسلامی در افغانستان است؟ بحث جداست ولی هر دو به عنوان احزاب انشعابی نهضت اسلامی افغانستان به شمار می‌روند.

جمعیت اسلامی در دهۀ هفتاد میلادی از طرف استاد ربانی بنیان نهاده شد و شخص او از آغاز فعالیت این حزب تا سال ۲۰۱۱ میلادی رهبر این حزب بود. این حزب در زمان جهاد علیه قشون سرخ شوروی از جمله بزرگ‌ترین گروه‌های جهادی بود و پس از خروج نیروهای شوروی از افغانستان در جنگ‌های داخلی نیز نقش مهمی را بازی می‌کرد.

جمعیت اسلامی پس از سقوط کابل بدست طالبان در سال ۱۹۹۶ به شمال کشور عقب‌نشینی کرد و جبهۀ متحد ملی یا ائتلاف شمال برای جنگ با حکومت طالبان را تشکیل داد که تا سقوط رژیم طالبان با این گروه درگیر جنگ بود. پس از حملۀ یازدهم سپتمبر ۲۰۰۱، ایالات متحدۀ امریکا برای سرنگونی حکومت طالبان و از بین بردن گروه القاعده در افغانستان، حملات خویش را آغاز کرد و در همکاری نزدیک با امریکا در کم‌ترین مدت جبهۀ متحد شمال دوباره وارد کابل شد.

جمعیت اسلامی پس از سقوط رژیم طالبان تاکنون نقش مهمی در ساختار حکومت افغانستان داشته و زمانی که در انتخابات ریاست جمهوری ۲۰۱۴ گروه انتخاباتی داکتر عبدالله که مهم‌ترین احزاب این گروه را حزب جمعیت اسلامی، حزب وحدت و حزب اسلامی تشکیل می‌داد، توافقنامۀ حکومت وحدت ملی مبنی بر تقسیم قدرت پنجاه-پنجاه با اشرف غنی امضا کرد، جمعیت اسلامی یکی از جناح‌های اصلی و مهم حکومت وحدت ملی شد.

## توافقات اشرف غنی و جمعیت اسلامی

داکتر عبدالله عبدالله عضو جمعیت اسلامی افغانستان در کنار اشرف غنی نامزد پیشتاز انتخابات ریاست جمهوری سال ۲۰۱۴ بود. پس از جنجال‌های طولانی به دلیل تقلب در دور دوم انتخابات ریاست جمهوری، بالآخره در ماه سپتامبر ۲۰۱۴ هر دو نامزد پیشتاز با پادرمیانی جان کری وزیر خارجۀ ایالات متحدۀ امریکا بر ایجاد حکومت مشترک (حکومت وحدت ملی) توافق نمودند. هرچند داکتر عبدالله عبدالله بر علاوۀ جمعیت اسلامی از حمایت افراد سایر احزاب نیز برخوردار بود، اما جناح اصلی این توافقنامه جمعیت اسلامی افغانستان بود.

در دوران پیکارهای انتخاباتی، اشرف غنی همواره شعار می‌داد که هرگز "شرکت سهامی" را نخواهد ساخت، ولی پس از برگزاری انتخابات در نخستین توافق‌نامه، خلاف قانون اساسی کشور قدرت را با رقبای سیاسی خویش تقسیم کرد و با تشکیل پُست ریاست اجرائیه خلاف قانون اساسی افغانستان قدم برداشت که بعدا اختلافات داخلی فراوانی نیز در پی داشت.

هرچند داکتر عبدالله چند ماه پیش برای جلب حمایت حزب‌اش (جمعیت اسلامی) انتقادهای تندی از اشرف غنی را مطرح کرد، در این اواخر اما به نظر می‌رسد که جمعیت اسلامی بخصوص رئیس اجرائی این حزب، از عملکرد داکتر عبدالله راضی نیست و خود تلاش دارد تا برای امتیازهای بیشتر سیاسی وارد گفتگوهای مستقیم با اشرف غنی، رئیس جمهور کشور شود. توافق با رئیس اجرائی حزب جمعیت، به عنوان توافق دوم برای سهیم ساختن برخی افراد این حزب در نظام پنداشته می‌شود.

با آنکه داکتر عبدالله به نماینده‌گی جمعیت اسلامی افغانستان پنجاه در صد قدرت کشور را در اختیار گرفته، ولی منابع نزدیک به عطامحمد نور رئیس اجرائی جمعیت اسلامی به بی‌بی‌سی گفته است که او دیگر اعتمادی به داکتر عبدالله ندارد و این حزب حق خویش را از حکومت به دست خواهد آورد که در این خصوص از توافقنامه‌ی میان عطامحمد نور و اشرف غنی سخن نیز زده می‌شود.

گفته می‌شود براساس توافق دو جانب، عطامحمد نور سرپرستی ولایت بلخ را رها می‌کند و در مقابل به یک جایگاه بهتر سیاسی دست می‌یابد. حتی گفته می‌شود مسایل شخصی عطامحمد نور مانند آزاد شدن حساب‌های بانکی و بیرون شدن نام شرکت‌های او از فهرست سیاه نیز بخشی از این توافق می‌باشد. در کل هرچند رئیس جمهور همواره بر شفافیت تاکید کرده و معاملات پنهانی را رد کرده، ولی گفتگوهای ارگ با

عطامحمد نور در پشت دروازه‌های بسته انجام شده و هیچ جزئیاتی در مورد آن ارائه نشده که به همین دلیل نارضایتی برخی اعضای شورای رهبری جمعیت اسلامی و ریاست اجرائیه را نیز در پی داشته است.

گفتگوها میان ارگ و عطامحمد نور سرپرست ولایت بلخ، حزب جمعیت اسلامی را با اختلافات احتمالی درون‌حزبی نیز مواجه کرده و پس از گفتگوها میان ارگ و عطامحمد نور، شماری از بزرگان و اعضای شورای رهبری جمعیت اسلامی در کابل گردهم آمدند و گفتگوها میان آقای عطامحمد نور و اشرف غنی رئیس جمهور کشور را غیرشفاف خواندند. شایعاتی پخش شد که او در تلاش دور زدن داکتر عبدالله و خود رسیدن به یک جایگاه بهتر سیاسی در کشور است و آن هم به دلیل اینکه عبدالله کاندید جمعیت اسلامی افغانستان بود و این حزب حق دارد تا در مورد سرنوشت آینده این پست تصمیم‌گیری کند. شایعاتی نیز وجود دارد که ارگ می‌خواهد از طریق این مذاکرات برای بن‌بست موجود در مورد جنرال دوستم معاون اول رئیس جمهور و اختلافات متداوم با داکتر عبدالله، راه بیرون رفت را جستجو کند.

## آیندهٔ جمعیت اسلامی

مانند سایر احزاب و گروه‌ها جمعیت اسلامی نیز از اختلافات داخلی در امان نبوده و پس از سال ۲۰۰۱ اعضای ارشد این حزب مانند داکتر عبدالله عبدالله، مارشال محمد قسیم فهیم و یونس قانونی در تلاش به حاشیه راندن استاد ربانی بودند که در این مورد محمد اکرام اندیشمند عضو جمعیت اسلامی که در بخش فرهنگی این حزب فعال بود، در کتابی زیر نام "امریکا در افغانستان" معلوماتی نیز ارائه کرده است.

پس از ترور استاد ربانی، پسر وی صلاح الدین ربانی به حیث سرپرست جمعیت اسلامی افغانستان تعین شد و تا اکنون به دلیل عدم برگزاری نشست کنگرهٔ این حزب به کار خود ادامه داده است. به نظر می‌رسد تا زمانی که اختلافات میان اعضای ارشد این حزب پایان نیابد، صلاح الدین ربانی در سمت ریاست این حزب باقی خواهد ماند، چون او نظر به سایر اعضای مهم این حزب کم‌قدرت‌ترین فرد است و اعضای ارشد جمعیت اسلامی او را تهدیدی برای آینده خود نمی‌دانند.

اعضای ارشد جمعیت اسلامی در انتخابات گذشتهٔ ریاست جمهوری و پس از آن نیز بیشتر موضع واحدی نداشتند. چنانچه اسماعیل خان وزیر اسبق برق و انرژی، احمدضیاء مسعود و اعضای ارشد دیگر جمعیت در کنار داکتر عبدالله عبدالله نبودند.

در حال حاضر نیز برخی اعضای جمعیت تشکیلات سیاسی جداگانه‌ی رهبری می‌کنند و تنها زمانی به جمعیت اسلامی روی می‌آورند که با کدام مشکل جدی مواجه شوند ویا هم سخن از منافع شان باشد. از جمله امرالله صالح جریانی بنام "روند سبز"، یونس قانونی جریانی بنام "افغانستان نوین"، احمدضیاء مسعود جریانی بنام "جبهه ملی"، احمد ولی مسعود بنیادی بنام "احمدشاه مسعود" و اسمعیل خان در هرات "شورای مجاهدین" را رهبری می‌کنند.

اگر اعضای ارشد جمعیت اسلامی به گونهٔ انفرادی اقدام به دست آوردن امتیازهای سیاسی کنند، ممکن امتیازهای فردی را به دست خواهند آورد، ولی چیزی را که از دست می‌دهد وحدت جمعیت اسلامی خواهد بود و این حزب برای نخستین بار با انشعاب بزرگ و جدی روبه‌رو خواهد شد. در کنار این، گمان بر این است که توافق عطامحمد نور و ارگ از قدرت جمعیت اسلامی نیز خواهد کاهید.

## نتیجه‌گیری

گروهای جهادی‌ای که در دهه ۹۰ میلادی کابل را برای گرفتن قدرت به میدان جنگ مبدل ساخته بود، در این اواخر دیده می‌شود که دوباره در حکومت کنونی با هم روبه‌رو می‌شوند و هر کدام در تلاش به دست آوردن امتیازهای بیشتر از حکومت است. اشرف غنی نیز در تلاش است تا برای انحلال جزائر قدرت از هر راه ممکن کار بگیرد و به همین منظور برای آوردن انجنیر گلبدین حکمتیار به کابل، توافق‌نامهٔ صلح با حزب اسلامی را امضا کرد.

گرچند جمعیت اسلامی در حال حاضر سهم پنجاه درصدی در حکومت را دارد، ولی اعضای ارشد این حزب از ساختار حکومت بیرون مانده‌اند و اشرف غنی می‌خواهد این بار عطامحمد نور رئیس اجرائی جمعیت را بربنیاد یک معامله، وارد صحنه سازد و از قدرت شرکای سیاسی نظام که مانعی در برابر اوست، بکاهد. پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 789316120 abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول بخش پژوهش‌ها و نشرات: (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.